## هغه بايلونکي چې ځانونه ګټونکي ګڼي



په ياد مو وي چې سياسي اسلام، اسلام نه دی، بلکې يو فکري مکتب دی؛ تندلاری اسلام، اسلام نه دی، بلکې يو فکري مکتب دی. ترهګري له دغو دوو مکتبونو خپل تفسير اخلي او د دغو درېيو عناصرو مرکز نن په پاکستان کې دی.»

دا د افغانستان د ملي امنيت د پخواني رييس امرالله صالح د هغې وينا يوه برخه ده، چې د سرطان په ۲۳مه يې د جمعې په ورځ د افغانستان او منځنۍ اسيا د خبرو اترو په ناسته کې، چې د باميانو په مرکز کې جوړه شوې وه او تر لسو زياتو آسيايي او اروپايي هېوادونو، امريکا، ملګرو ملتونو او د ناټو استازو پکې ګډون کړی و؛ په ډېرې بېباکۍ د اسلام او اسلامي امت پر ورانديز وکړه.

امرالله صالح رښتيا وويل، (په داسې حال کې چې نوموړی دروغجن دی؛ ځکه هغه سياست چې هغه ، پاکستان، امريکا او د هغوی سياسي پلار ماکياولي تعريف کړی، په اسلام کې ځای نه لري. اسلام هغه دين دی چې د انسان، کايناتو او ژوند د خالق له لوري پر رسول الله صلی الله عليه وسلم نازل شوی، چې له مېړمنې سره د خوب له بستري نيولې تر نړيوالو اړيکو پورې د ژوند په ټولو ډګرونو کې د بشر ټولې چارې تنظيموي. د محمد صلی الله عليه وسلم په اسلام کې د ماکياولي سياست، تندلاري او ترهګري نشته او سرچينې يې هم پاکستان، امريکا او اروپا نه، بلکې قرآن، سنت، د اصحابو اجماع او قياس دي.

امرالله صالح په داسې حال کې پر دغو بېباکانه الفاظو خوله خلاصوي، چې په سيمه کې د اسلام او اسلامي امت پر ورانديز د امريکا او ناټو د جګړې اورونه لمبې وهي. د مسلمانانو هره اجندا چې په سيمه کې د امريکا او ناټو ګټې عملاً وګواښي، ترهګري او هره مفکوره چې ګټې يې اوږد مهاله وګواښي، تندلاري نومول کېږي او پر ورانديز يې په بېلابېلو صليبي اساليبو ترور او وحشت کوي، چې د دغه جاسوس وروستی څرګندوني هم د اسلام او مسلمانانو پر ورانديز د امريکا د مزدورانو د پروپاګندا يوه برخه ده.

امرالله صالح دقيقاً د سياسي اسلام حقيقت درک کوي، خو دی غواړي چې د دا ډول پوچو څرګندونو له لارې په اسلامي خاورو کې د کفارو د مشرتابه جوړولو په پروسه کې ځان ته لاره پرانيزي. په داسې حال کې چې موږ په وروستی يوه نيمه پېړۍ کې تر ده د مخلصو او پياوړو مزدورانو لکه مصطفی کمال اتاترک، جمال ناصر، قذافي، حافظ/بشار اسد، مشرف او... شاهدان وو، چې د ماموريت تر ادا کولو وروسته د تاريخ کثافت دانۍ ته واچول شول. ده ته تر اوسه هم د عبرت او توبې فرصت شته او يوازې عاقلان ترې استفاده کولی شي.

امرالله صالح بايد دا درک کړي، چې د ماکياولي "پوليټيک" د اسلام پر "سياست" قياس نه کړي؛ ځکه اسلامي سياست د انبياوو او وروسته د خلفاوو دنده ده. لکه څنګه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په دغه حديث کې موږ ته هغه داسې بيان کړې ده:

**فَمَا تَأْمُرُنَا؟ :وَسَتَكُونُ خُلَفَاءُ فَتَكْثُرُ، قَالُوا .كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمُ الأَنْبِيَاءُ،كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌ خَلَفَهُ نَبِيٌ، وَإِنَّهُ لاَنَبِيَ بَعْدِى»** (رواه مسلم) **«فَإِنَّ اللّهَ سَائِلُهُمْ عَمَّا اسْتَرْعَاهُمْ .فُوا بِبَيْعَةِ الأَوَّلِ فَالأَوَّلِ، وَأَعْطُوهُمْ حَقَّهُمْ :قَالَ**

*کله به چې کوم پيغمبر وفات شو، بل به يې ځايناستی. د پيغمبرانو په واک کې وه (رهبري او اداره) د بنی اسرائيلو سياست په هغه حال کې موږ ته پر :وويل شول .کيږده؛ خو له ما وروسته بل پيغمبر نشته، بلکې خليفه ګان به وي او هغه به ډېرېږي څه امر کوی؟ ويې ويل: پر لومړي او بيا لومړي بيعت وفا وکړئ او حق يې پرځای کړئ. بېشکه الله سبحانه وتعالی به له .دوی څخه د هغه څه پوښتنه کوي چې ورباندې ګومارلې يې دي*

له همدې امله سياست په اسلام کې د اسلامي احکامو او افکارو پر اساس د بشر د ژوند د چارو رهبري، تنظيم او سرپرستي .ده. مګر د کفارو پوليټيک د قدرت د تر لاسه کولو، ساتلو او عملي کولو هنر دی، هغه عمل چې په اسلام کې قطعاً حرام دی

د دا ډول ځرګندونو خطر اصلاً اسلام ته متصور نه دی، خو د فکري انحطاط په دغه وخت کې زيات ساده خلک شته، چې مخلصانه د دغه ډول روبيضاتو (احمقانو) له ځرګندونو څخه اغېزمن او بالاخره ګمراه کېږي. هغوی بايد دا درک کړي چې د دغو اسلام ضد او کفر پرورو عناصرو اساسي هڅه او هاند پيسي، مقام او منصب لاس ته راوړل دي. له دې امله په ځينو فرصتونو کې داسي عجيبي او غريبي ځرګندوني کوي، چې وروستی بېلګه يې محمد محق و، چې په خپلو دا ډول اوتو بوتو يې ځان د ټولنيزو او فرهنګي چارو په برخه کې د جان کيري د ولسمشر د مشاوريت مقام ته ځان ورساوه. دا هماغه د جهنم په لور دعوتګران دي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د حذيفه بن اليمان په حديث کې له دوی څخه موږ ته :خبرداری راکړی دی او فرمايي

**هم من جلدتنا، ويتكلمون :يا رسول الله صفهم لنا، قال :دعاةٌ على أبواب جهنم من أجابهم إليها قذفوه فيها، قلت ...»** (رواه البخاري) **«...بألسنتنا**

*يا رسول الله د دوی :د دوزخ پر دروازو به داعيان وي، چې هر څوک يې پر هغه لور دعوت ومني، ورلوېږي. ومې ويل .هغوی به زموږ له جنسه وي او زموږ په ژبه به خبرې کوي :صفت موږ ته بيان کړه، ويې فرمايل*

په پای کې د الله سبحانه وتعالی دا قول د ده او د ده په څېر نورو د دا ډول اعمالو د مصداق په موخه در په يادوم چې :فرمايي

**)(١٠٤)الَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعاً (١٠٣)(قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالاً**

(کهف سوره)

*د )ايا تاسو له خورا زيانکارو خلکو خبر نه کړم؟ هغوی هغه کسان دي چې هڅه او هاند يې :ووايه !ای پيغمبره :ژباړه په دنيوي ژوند کې بې‌ځايه ځي او خپله انګيري چې په خورا ښه ډول نېک کار کوي او (عقيدې او باور د تباهی له امله .(طاعت، عبادت او چټل سياست يې د ژغورنې لامل کېږي)*

**سيف الله مستنير**

**د حزب التحرير ـ ولايه افغانستان د مطبوعاتي دفتر رييس**